کندهار

Kandahar. Kabul
Vol.3, No.12, Hut 1341
(February 1964)

د افغانستان نوی کابینه د معظم اعلیحضرت په حضور کې

ښاغلی سردار محمد داؤد د افغانستان صدر اعظم د صدارت عظمی د مقام او د هغه د ستر و مسئولیتونو تصدی د نه نیمو کلو دورې څخه وروسته د حوت پر ۱۲ نېټه له دغې وظیفې څخه خپله استعفا د معظم اعلیحضرت حضور ته وړاندې کړه چې شاهانه ذات ومنله. او عالیقدر جلالتمآب دکتور محمد یوسف د کانو او صنائعو وزیر ئې د نوی حکومت د تشکیل دپاره مامور کړ.

دکتور محمد یوسف د حوت د ۲۲ ورځې د مازیګر په څلورو بجو د ملوکانه ذات حضور ته ورغی او د خپلې کابینې غړی ئې معرفی کړل چې په دې مخ کې لیدل کېږی

د ښاغلی سردار محمد داؤد

د پیغام متن د وطنوالو په نامه

چی په کابل راډیو

کی خپور شو

ګرانو او عزیزو وطنوالو!

په دې وخت کی چی د افغانستان د صدارت عظمی په وظیفه کی له نه نیم کلنی دورې څخه پس او وطن ته د خدمت د فرایضو د اجرا کولو له کوښښ څخه وروسته له دې درنی وظیفې څخه زما استعفا د همایونی اعلیحضرت له حضور څخه منل کېږی غواړم چی د خپلی سپاس ګذاری مراتب خپلو ټولو همکارانو او دولتی مامورینو ته چی په ګډه مو کار سره کړیدی، څرګند کړم

همداشان د هغه مسئولیت له کبله چی پدې موده کی می د ملی دفاع د وزیر په حیث او یو عمر می د افغانستان د فدا کاره اردو په خدمت کی تېر کړیدی وجداناً ځان مکلف ګڼم چی خپل د زړه له کومی صمیمی تشکرات د افغانستان د باشرفه اردو و محترمو قوماندانانو او ټولو منصبدارانو او منسوبینو ته څرګند کړم او د دوی له هغو زحمتو او همکاریو څخه چی د هیواد د لوړنیا او د اردو د لوړوالی په لار کی ئې زما سره یو ځای کړیدی، خپله شکریه او حق بېژندنه څرګنده کړم.

په تېرو کلونو کی دا ممکنه شوه چی د افغانستان د خلکو په قوی طرفداری او د هغو ځوانانو په سعیه او کوښښ چی د حکومت په مختلفو ادارو کی ئې وظیفه درلوده د هیواد په اقتصادی ژوند او عمرانی چارو او قسماً د خلکو په اجتماعی شئونو کی بدلون راشی.

یو کال مخکی د هیواد اقتصادی او عمرانی لومړی پلان په کامیابی سره پای ته ورسېدی او وروسته دوهم پلان په کار ولوېدی.

په دې موقع کی لازمه ګڼم دا یاده کړم چی د خپل هیواد د انکشاف او ودانی دپاره د خپلو مجاهدانو په لار کی یوازی نه وو.

د افغانستان یو شمېر دوستو هیوادو د دې مطلب دپاره د افغانستان د حکومت سره مثبتی همکاری کړیدی. د دوستی د اډول مظاهر نه یوازی زما د حکومت د ستاینی وړ دی بلکی د افغانستان د خلکو په خاطره کی هم ډېر په زړه پوری صورت سره ثبت شویدی.

ډېر خوشحال یم چی د وروستیو کلونو په ترڅ کی د افغانستان د ښځو په ژوند او وضع کی دویلو وړ تحول راغلی دی

[د پشتی دریم مخ وګوری]

LIBRARY OF CONGRESS
ISLAMABAD OFFICE
29 MAR 2005
6 CONTINUATION 5

کندهار

میاشتنی خپرونه

ادبي . تاریخي . اجتماعي . علمي

مسئول چاوونکی:

ا،م «کرزی»

اداره: د شهیدانو واټ

د دولتي مطبعي څنګ ته

د ۱۳۴۱ امریز کال د [حوت] میاشت

د ۱۹۶۳ میلادي کال د [مارچ] میاشت

د دریم کال ۱۲ ګڼه

پرله پسې ګڼه [۳۶]

کالنی «بیه»

په کندهار کی [۲۸] افغانی

په دننه مملکت کی [۳۲] «

په دباندنیو هیوادو کی یوډالر

ددې ګڼې مضامین

ښاغلی صدراعظم دکتور محمد یوسف د خپل حکومت راتلونکی کړنلاره توضیح کړه . په [۱] مخ کی

زموږ هیواد د اجتماعی بدلون په هڅه کی دی « [۷] « «

ویدانت « [۹] « «

د شعر او موسیقی پیدا ښت « [۱۱] « «

هنر د یوهانو په نظر کی « [۱۳] « «

[قدرت] « [۱٤] « «

[شاعر] « [۱٦] « «

یوه مور او ګوډ تېمور « [۱۸] « «

د میرویس کلا « [۲۱] « «

په کوچنیوالی دواده تارانونه « [۲٤] « «

د ښاغلی عبدالحی حقیقی پېژندنه « [۲٦] « «

د یوه رانده شاعر نغمه « [۲۹] « «

د څلورو فصلونو ترانه « [۳۰] « «

بناغلی سردار محمد داؤد پښتونی صدر اعظم

بناغلی دکتور محمد یوسف نوی صدر اعظم

د نوی کابینې لومړۍ غونډه

ښاغلی صدراعظم دکتور محمد یوسف دخپل حکومت راتلونکی کړنلاره توضیح کړه

(بسم الله الرحمن الرحیم)

گرانو وطنوالو!

په داسی حال کی چی د صدارت عظمی درنه وظیفه په غاړه اخلم غواړم چی د نوی حکومت د خط مشی په شاوخوا کی ستاسو سره څو خبری وکړم او د هغی په سترو تکو چی همدا نن دوزیرانو د هیئت په لومړۍ غونډه کی تصویب شوی دی تاسو خبر کړم.

دښاغلی سردار محمد داؤد ستر خدمتونه د افغانستان په تاریخ کی د ویاړنی ډکو یادگارونو په حیث ثبت شوی دی

څرنگه چی محترم وطنوال خبر دی والاحضرت سردار محمد داؤد چی څه د پاسه ۹ کاله ئې د صدارت عظمی مهمه وظیفه په غاړه درلوده او دا وظیفه ئې په بېساری وطن پالنه، جدیت او کفایت ترسره کوله په دې ورځو کی ئې له خپلی وظیفې څخه استعفی وکړه.

دافغانستان د حیثیت او ملی گټو د ساتلو په لاره کی د افغانستان د اجتماعی او اقتصادی شئونو د لوړوالی او د داخلی او خارجی سیاست د متینو اساساتو دپاره د سردار محمد داؤد ستر خدمتونه دومره واضح او ځلانده دی چی شرح او بیان ته اړه نه لری او د افغانستان په تاریخ کی د دوی د تصدۍ د دورې د افتخار نه ډکو یادگارو په حیث ثبت شوی دی.

زه یوازی غواړم په دې وخت کی چی دغه والاحضرت دا درنه وظیفه پرېږدی د یو افغان او داسی همکار په حیث چی همېشه می د هغوی له لارښودنو څخه استفاده کړېده، د والاحضرت حضور ته د خپلی ډېری خوشالی مراتب وړاندی کړم او د لوی خدای له دربارې د هغوی روغتیا او نېکمرغی غواړم.

زه باور لرم چی ټول افغان ملت زما سره د دې خوښی په عرض کولو او خالصانه دعا کی شریک دی.

د گران ټولواک لوړی هیلی

د معظم ټولواک همایونی اعلیحضرت حضور چی لوړی آرزوگانی ئې همېشه د یوې متینی او ترقی غوښتونکی نقشې په اساس د هیواد وړاندی تگ او د چارو تحول ته متوجه دی، ما ته افتخار و باښه چی د افغانستان نوی کابینه جوړه کړم. دا افتخار په حقیقت کی د هیواد ټولو ځوانانو ته

عاید دی او زه خپله وظیفه ګڼم چی د دې لوړ اعتماد په نسبت خپله ډېره خالصانه شکریه د شهریاری ذات حضور ته عرض کړم .

ګرانو وطنوالو!

زموږ ګران وطن افغانستان د خپل تاریخ په ویاړلی دوره خصوصاً په معاصرو دورو کی وده کوی له یو لړ پېښو سره مخامخ شو چی زموږ پلرونه د یوې دینی او ملی فریضې په حکم له هغو سره د مقابلې د پاره چمتو شول په هغه وخت کی لوی انقلاب خپور شو او د دنیا د هیوادو حالات ئې یو په بل پسې د علم او نوی تخنیک له لاری بدلول زموږ په هیواد کی د وطن د دفاع مقدسی وظیفې د دې موقع ورنکړه چی د دې هیواد خلک لکه څرنګه چی ښائی د خپلو مدنی، عرفانی او اقتصادی شئونو د لوړولو کار تر سره کړی او د نوی تمدن په لویه لاره کی له نورو هیوادو سره یو ځای ګام او قدم واخلی .

نو نن چی د هغوی د مجاهداتو له برکته افغانستان د دنیا د آزادو هیوادو په جرګه کی خپل لایق مقام ساتلی او تر سره کړی دی .

پر موږ لازمه ده چی د تېرو زیانو د تلافی د پاره اقدام وکړو او په ډېر زیار او کوښښ هغه فاصله لنډه کړو چی د عصری تمدن له نظره زموږ د هیواد او د دنیا د نورو وړاندی تللو ملکو ترمنځ تولید شوېده تر څو چی د خدای په مرسته یوه ورځ د دې وطن زامن دغه تفاوت بیخی له مینځه یووړای شی .

دا هغه درنه او ویاړلی وظیفه ده چی د تیری کابینې په دوره کی شروع شوېده او باید په زیاتو هغو ابتکاراتو او تحولاتو سره زموږ له خوا تعقیب شی چی د عصر مقتضیات او د حالاتو انکشاف ئې ایجابوی .

دا وظیفه ما او زما همکارانو سره له دې چی د لاری په سختوالی او د توښې په لږوالی پوره خبر یو منلې ده او هیله لرو چی هغه د خلکو د ټولو طبقاتو په اتفاق په تېره بیا د هیواد د ځوانی او منوری طبقې په ملګرتوب چی د افغانستان تاریخ د تحول او انتقال په دې دوره کی تر ټولو ستر ملی مسئولیت د هغې په غاړه ږدی تر سره کړو .

ښکاره ده چی د داسی مهمی او ستری وظیفې د سرته رسولو د پاره د یوې اساسی او ښکاره خط مشی غوره کولو ته اړه لرو چی زموږ فعالیتونه په صحیح استقامت سم کړی او مطلوب هدف ته ئې نژدې کاندی .

ستر مطالب

د دی خط مشی ستر مطالب چی د معظم ټولواک همایونی اعلیحضرت، د افغانستان د خلکو آرزوګانې او د زمانې ایجابات ئې منبع ګڼل کېږی په دې ډول خلاصه کېږی:-

۱- د اسلام د ځلانده دین ابدی او نه فنا کېدونکی لارښودنی تل زموږ د اعمالو سرمشق او لارښوونکی دی .

۲- ترټولو ستره او لوړه وظیفه چې موږ ورته ځان مکلف ګڼو د افغانستان د خپلواکۍ د خاورې د تمامیت او حقه حقوقو او ګټو ساتل دي.

نوي حکومت د پخواني حکومت په شان دغه مقدسه وظیفه د خپلو ټولو وظایفو په سر کې ټاکلې او خپل ترټولو ښه زیار به هغې ته وقف کړي.

۳- د اقتصاد په ساحه کې د پلان جوړولو او رهبري شوي اقتصاد سیستم د اقتصادي بنیې د تقویه کولو او د هیواد د خلګو د ژوندانه د سویې د لوړولو د پاره دوام کوي، د پرزیار به وباسو چې د رواني پروژې او د دوهم پنځه کلن پلان نوي پروژې د خپل مالي توان او امکاناتو په حدودو کې تطبیق او عملي کړو. انفرادي تشبثات به د هغه اقتصادي سیاست په چوکاټ کې چې غوره کړي مو دي، نور هم حمایه او تشویق شي.

٤- د هیواد د اداري په طرز کې به د دیموکراسۍ د تطبیق د پاره د هغو پېشنهادو له مخې اساسي او مناسب بدلون راولو چې د پخواني صدراعظم والاحضرت سردار محمد داؤد له خوا ملوکانه حضور ته وړاندې شوي او اساساً د شاهانه ذات له خوا منل شوي دي.

حکومت دا تحول، چې اصلي مقصد ئې د ټولنې سلامتي او هدف ئې په اجتماعي او حیاتي شئونو او د قوانینو د تدوین په چارو کې خلګو ته د زیاتې برخې ورکول دي چې اجتماعي عدالت او د فردي حقوقو مصئونیت ترسره کوي یو مهم ضرورت او د هغه عصر له ایجاباتو سره مطابق بولي چې پکښې ژوند کوو.

حکومت تصمیم لري چې دې مبادیو ته چې د هیواد د خلګو په راتونکي سرنوشت کې خاص ارزښت لري د خپلو نورو وظایفو په سلسله کې اهمیت ورکړي او سمدستي د متخصصینو او پوهانو په همکارۍ خپل مطالعات په دې باره کې شروع کړي او تر هغې ژوري کتنې او غور وروسته، چې د موضوع اهمیت ئې ایجابوي د قانوني مراحلو له ترسره کولو وروسته د هغه د تطبیق پروګرام تر اجرا لاندې ونیسي.

حکومت به د بیطرفۍ عنعنوي سیاست او په ډلو کې د نه ګډون او د آزاد قضاوت لاره چې مقصد ئې د هیواد خپلواکۍ، ملي حاکمیت او د خاورې د تمامیت ساتل او د متقابل احترام او اعتماد په اساس له ټولو خلګو او ولسونو سره د دوستانه علایقو ټینګول دي، او له دې لارې سولې ته خدمت کول او د هغې په رڼا کې په سوله کې ژوند او زموږ د هیواد د انکشاف او د خلګو د ژوندانه د سویې ښه والي دي، تعقیب کړي.

د ملګرو ملتو منشور ته پابندي، د بشر د حقوقو د اعلامیې احترام او د سرنوشت د ټاکلو د حق او د استعمار او د هغه د بقایاؤ د لغو کولو طرفداري په مختلف شکل سره د دنیا په هر ګوټ کې چې وي او بین المللي همکاري د افغانستان د سیاست له اساساتو څخه دي.

د افغانستان حکومت د باندونګ د کنفرانس اساسات او په بلګراد کی د بیطرفو هیوادو د ټولنی اعلامیه چی مقصدئې دولسونو ترمینځ د دوستی او ښه تفاهم د پیدا کولو دپاره له قوی څخه د صرف نظر کولو له لاری په دنیا کی د سولی ټر سره کول دی یو ځل بیا تائیدوی.

د افغانستان حکومت د پښتونستان د روا مطالبو په کلکه طرفداری کوی

دافغانستان حکومت د خپلو خلکو د آرزوګانو په بنا د پښتونستان د خلکو د روا مطالبانو همیشه طرفداری کړی او نن هم په کلکه د هغو طرفداری کوی. زموږ آرزوګانی د پښتونستانیو وروڼو د خپلو په مطابق د هغوی د ملی آمالو ترسره کول دی او د پښتونستانو وروڼو د دې مشروع حق د ترسره کولو دپاره به د افغانستان کوښښونه په سوله غوښتونکو لارو دوام وکړی.

هیله لرو چی د پاکستان حکومت به واقع بینی او دانی ته د مقتضیانو سره سم د پښتونستان د خلکو د ملی آمالو او آرزوګانو احترام وکړی. له دوستو دولتو سره به د افغانستان مناسبات د ملګرو ملتو د منشور د اصول په اساس په متقابل احترام او اعتماد او صادقانه همکاری د دوستی په نقویې او پراختیا ولاړ وی.

د خوشالی ځای دی چی د افغانستان روابط له دوستو دولتو سره د ملی ګټو سره سم او د بین المللی اساساتو سره موافق، په زړه پوری انکشاف کوی او توسعه مومی.

افغانستان د اسلامی مملکتو سره چی دینی او تهذیبی مزوسره نژدې کړی یو، خپلو مناسباتو نه خاص ارزښت ورکړی او د ورور ګلوی د دغو علایقو د زیاتی نقویې په لاره کی ئې کوښښ کړی دی او دغه کوښښونه به دوام ولری.

افغانستان له ګاونډیو هیوادو سره د خپلو روابطو د پراختیا او ساتلو دپاره کوښښ کوی

افغانستان تل له ګاونډیو هیوادو سره د خپلو مناسباتو د ساتلو او ټینګولو په لاره کی کوښښ کړیدی او په آینده کی به هم د دغی هیلی دپاره چی په ښه ګاونډیتوب ولاړ وی د کوښښ وکړی.

د افغانستان مناسبات زموږ د دوست او ګاونډی هیواد اتحاد جماهیر شوروی سوسیالستی سره له اوله څخه د ښه ګاونډیتوب او متقابل احترام له مخی روان دی او دغه علایق به ورو ستو کلو کی په نژدې تماسونو او د دواړو هیوادونو د مشرانو په نګ رانګ او ګټورو اوږدو ګړو پوری فنی اقتصادی او فرهنګی مرستو سره د هیواد د ملی ګټو سره سم پراخ او ټینګ شوی دی د افغانستان حکومت به د ډیخوا به د هغه شان خپلو کوښښونه د دغو روابطو د ساتنی، نقویې او پراختیا دپاره دوام ورکړی.

د ایران له ګاونډی هیواد سره د افغانستان دوستانه او د ورور ګلوی مناسبات په زړه پوری په ښه نیت او د ښه ګاونډیتوب د روابطو په اساس دوام لری.

افغانستان ته د اعلیحضرت د ایران د شاهنشاه رانګ او د دوی جمیله کوښښونه او د افغانستان په ترانزیټ کی اسانتیاوی د دغو دوو مسلمانو ورونو هیوادو ترمنځ د دوستۍ علایق نور هم تقویه کړیدی .

له بل ګاونډی هیواد دولسی چین د جمهوریت سره د افغانستان روابط د ښه نیت او نیک ګاونډیتوب او متقابل احترام له مخی دوام لری او په وروستیو کلونو کی دغه مناسبات د دواړو مملکتو د مشرانو

په مسافرت او د دوستی او د متقابل نه تېری د تړون په لاسلیک سره زیات تقویه سوی او په دې وختو کی د دواړو هیوادو ترمنځ د اوسنی سرحد د کرښی د رسمی تجدید او د سرحدی تړون د لاسلیک د پاره

موافقت چی په نظر کی ده په نژدې آینده کی عملی شی په دغه لیاره کی یو بل مثبت ګام ګڼل کیږی .

د امریکا له متحده ایالاتو سره د افغانستان

دوستانه مناسباتو د ښه نیت او متقابل احترام په اساس انکشاف موندلی په فنی، اقتصادی او فرهنګی مرستو او همکاریو سره دغه روابط پراختیا مومی .

د امریکا د متحده ایالتو د جمهور رئیس جلالتمآب په بلنه د اعلیحضرت مسافرت چی په راتلونکی

دوبی کی به وشی، د دواړو مملکتو ترمنځ د روابطو په تحکیم او تینګتیا کی بل مثبت قدم ګڼل کیږی. د افغانستان حکومت به د امریکا د متحدو ایالتو سره د خپلو دوستانه مناسباتو د ساتنی، تقویې او پراختیا د پاره خپلو کوښښونه دوام ورکړی .

افغانستان خپلو روابطو ته له هغو هیوادو چی په یوه منطقه کی ورسره اوسی تل خاص اهمیت ورکړی

دی لکه چی د افغانستان او د دغو مملکتو ترمنځ دوستانه او رضائت بښونکی روابط موجود دی.

د هند له جمهوریت سره د افغانستان مناسبات د عنعنوی دوستانه روابطو په اساس تل د نیک او

دوستانه تفاهم سره ملګری دی .

د اعلیحضرت همایونی په بلنه د هند د جمهور رئیس جلالتمآب نژدې راتلونکی مسافرت د دغو ښو روابطو په زیاته تقویه کی مؤثر دی .

د پاکستان د حکومت د یواړخیز حرکت په اساس
د افغانستان او پاکستان ترمنځ روابط
لا تراوسه هم نه دی ښه شوی

په خواشینی سره باید وویل سی چی له پاکستان سره د افغانستان روابط د افغانستان د آرزوګانو

په خلاف او په دغه لیاره کی د کوښښونو سره تراوسه پوری نه دی ښه شوی هغه کشاله چی د پاکستان د حکومت د یواړخیز حرکت په اساس چی د دغو دوو هیوادو ترمنځ ئې [illegible] روابط

وشلول اوس هم روانه ده، د توقع په خلاف هغه مفاهمه چی په نیویارک کی د عادی وضع د اعادې

د پاره د دواړو هیوادو د خارجه وزیرانو ترمنځ د ایران د دولت په کوښښ شوی وه تراوسه لا د پاکستان د حکومت له خوا په ښه نیت سره نه ده تلقی شوی، او بې نتیجې پاتی شوېده .

موږ په دغه زمینه کی دایران د اعلیحضرت شاهنشاه د کوښښونو موفقیت دهغه ښه نیت په اندازې پوری زیات مربوط ګڼو چی د پاکستان د حکومت له خوا په دغه لیاره کی ښکاره شی.

دافغانستان حکومت دهیواد دانکشافی پلانو په وړاندی بیولو کی د دوستو دولتو له بې غرضانه مرستو او همکاریو څخه صمیمانه ممنونیت او قدردانی کوی.

دشوروی اتحاد دسوسیالستی جماهیرو او دامریکا دمتحده ایالتو دویلو وړ مرستونه علاوه چی تل په زړه پوری او دتقدیر وړ دی، دالمان دفدرالی دولت دوستانه مرستی چی مخ په زیاتیدو دی د خوښی موجب او د یادولو وړ دی.

دنورو دوستو مملکتو له همکاری او مرستو څخه هم صمیمانه امتنان کوو.

دافغانستان حکومت هیله لری چی دغه مرستی او همکاری په آینده کی هم دوام او پراختیا ومومی او دنیک تفاهم او ښو مناسباتو دنقوی په لیاره کی چی ددغو دوستو دولتو سره وجود لری له پخوانه زیاتی ګټوری او موثری واقع شی.

د افغانستان حکومت د ملګرو ملتو اختصاصی مرستی تقدیروی

دافغانستان حکومت دملګرو ملتو داختصاصی موسسو مساعدت او همکاری چی تر اوسه پوری شویدی تقدیروی او دوام او پراختیائی ګټوره او په زړه پوری ګڼی.

په بین المللی ساحه کی دافغانستان دحکومت د سیاست هدف په ملګرو ملتو او په نورو بین المللی ټولنو کی دپخوا په شان دهیواد دملی ګټو ساتنه او دعمومی سولی په لیاره کی خدمت او د بین-المللی همکاری دپاره دزیات تفاهم ایجادول دی، ددغه مطلب د په نظر کی نیولو سره سره به دافغانستان موقف دهغو مسئلو په مقابل کی چی ننني نړۍ ورسره مخامخ ده دتل په شان په آزاد قضاوت ولاړوی او د افغانستان حکومت به هر قدم چی له هری ناحیې څخه د بادوامه سولی د تر سره کولو په لیاره کی واخیستل سی وستایی داؤ دحکومت دخط مشی اساسی ټکی.

زموږ د کامیابی او پرمختګ درجه چی ددغه خط مشی په تعقیب او تطبیق کی په نړۍ بیا به دې لحظه کی چی دیوه تحول په درشل ولاړ یو دملت دټولو وګړو په استقبال او مرسته پوری اړه لری.

موږ ټولو افغانی نارینه او ښځو، دمعارف منسوبینو، د دولت مأمورینو او دهیواد ټولو وطن دوستو پوهو زلمیانو ته بلنه ورکوو چی په دغه لوی اقدام کی زموږ سره ګډون وکړی او ددغی عالی وظیفې په سرته رسولو او ګډ مسئولیت کی چی نښه به ئې کلونه، کلونه دوطن په آینده ژوند کی باقی پاتی شی، له حکومت سره مرسته او ملګرتیا وکړی.

دخدای په یاری او د خلګو دمرستی په اعتماد دخپل رعیت پالونکی او ترقی غوښتونکی پادشاه په ارشاد او لارښوونه په کار پیل کوو.

«ومن الله التوفیق»

زموږ

ځېرواد

د اجتماعي بدلون په هڅه کې دی

تغیر او تحول د کاینناتو نه بد-
لېدونکی دود دی همدغه ابدی
قانون دی چی هم د انسان په
ژوند کی او هم د طبیعت په

مظاهرو کی بدلون راولی که
چیری په انسانی ژوند یا د ټولنو
په اجتماعی شئونو کی دلویه
سره کوم تغیر نه پېښدای نو

تراوس پوری به لا انسانان د
غرونو په غارو کی پراته وای
او هیڅ راز مادی او معنوی
پرمختګ به ئې په برخه سوی

نه وای .
داچی موږ د ولسونو د ژوند
په هره برخه کی د تاریخی
استناد له مخی څرګند تحو-
لو به وینو دا د فطرت هغه ازلی

سنت دی چی تل تر تله د موجو-
دانو او بشری ولسونو پر حال
مشتمل دی .

خو هوښیار انسان او پوهی
جامعې هغه دی چی د وخت
بدلون وپېژنی او د زمانې و
ایجاباتو ته په ژور نظر وګوری

کوم ولس چی د اجتماعی
تحولونو و سیر ته نه ملتفت
کېږی او د زمانې نه بد-
لېدونکی دود نه نسی منلای

نو هغه ملت به یا د تمدن له
کاروان څخه ډېر وروسته پاته
کېږی یا به بېخی د فنا کندی
ته لوېږی او هغه هم په داسی

حسرت سره چی بیا به ئې د
تاریخ پلټونکی نوم او نښان
موندلای نسی .
په اجتماعی ژوند کی هغه
ولس نېکمرغه دی چی د وخت

تقاضا پېژنی د نوو شرایطو
سره خپل ژوند برابروی او
ورو؛ ورو دارتقا او اجتماعی

نهضتونو په لور د خپل ولس
د سوبې سره سم ګام اخلی .
د افغانستان ملت هم د تاریخ
په جریان کی خپله وظیفه ښه

پېژندلی او خپلو مسئولیتونه
پوره ملتفت سوی او وخت په
وخت ئې د اجتماعی سمون
د پاره خپل نقش لوبولی دی .

خو داچی نن زموږ په
ولسی او اقتصادی ژوند کی
نیمګړتیا موجودی او موږ
نسبت د دنیا و مترقی هیوادو

ته وروسته پاته بلل کېږو
یا د تمدن وسایل ډېر لږ مهیا
سوی دی دا د لوېدیځ د
استعماری سیاست علتونه وه
چی موږ ته ئې فرصت را نکړ

چی د خپل قام او ملت د
ښېګڼی او آرامۍ د پاره په
زړه پوری ګامونه واخلو او

ځان د نړیوالو سره برابر کړو .

لیکن بیا هم هر کله چې وخت زموږ سره مرسته کړې ده ، موږ خپلو اجتماعي او اقتصادي نیمګړتیاؤ ته ملتفت سوي یو او د خپلې جامعې د ترقۍ دپاره مو د خپل توان سره سم زیار او زحمت سپمولی نه دی .

داچې اوس وروسته له نه نیمو کالو څخه ښاغلی سردار محمدداؤد استعفاو کړه البته موږ او د افغانستان تاریخ به هیڅکله د هغه وطن پرست پښتون د افتخاره ډکې کارنامې هیرې نه کړو او تل به ئې یادوو .

خو داچې اوس کابینه نوی سوه او مملکت د اجتماعي تحولاتو په آستانه کې ځای لري نو زموږ د هیواد ټولې طبقې زیات مسئولیت هم لري په تېره بیا ځوانه اوروشن فکره ډله باید خپل دریځ او تاریخي مسئولیت ته تر ټولو ډېره پاملرنه ولري .

نن زموږ لوی مسئولیت دادی چې خپل شخصي کدورتونه او خوابدۍ یو مخیزه پرېږدو د اتحاد او یووالی لاسونه سره ورکړو د خپل ملك د ترقۍ او د خپل ولس د آرامۍ په غرض ربړونه وګالو .

دا یو عقیده باید همېشه د ځانه سره په کلکه وساتو چې د هیواد د ترقۍ په لار کې نه یوازې یو سړی او یا څو کسه مسئول دی بلکه د ملت هر فرد په هره وظیفه کې چې وی د خپل وطن او د خپل تاریخ په وړاندې دروند مسئولیت لري .

څرنګه چې وطن د ټولو کور دی نو ټول اوسېدونکی ئې هم باید له حقوقو څخه برخه من سي او هم ئې په ساتلو او ودانولو کې د زړه له کومې برخه واخلي زموږ اوسنۍ دوره د ځان ځانۍ دوره نه ده بلکه باید د جامعې په خیر او اعتلا کې خپل شخصي سعادت وپلټو او ځان د هغې وظیفې وړ وګرزوو چې عصر، راتلونکی نسل او تاریخ ئې زموږ څخه غواړي .

ا.م « کرزی »

د ثقافة الهند له عربي مجلې څخه
دښاغلي [نجيب] ترجمه او تلخيص

ويدانت

ويدانت دهند دهغې اخلاقي او ديني فلسفې نوم دي چې نشأت ئې د ډېرې زمانې راپدېخوا سوي او تراوسه پورې ئې لا اثر لږ او ډېر باقي دي چې تطابق ئې موږ نن ورځ د تصوفو له اساساتو سره په بشپړ ډول کولای شو

دويدانت فلسفه چې اساس ئې پرابدي سعادت بنا او بدني لذايذ يا د دنيا ثروت او مادي امتعې ئې درسيدو وسيلې نه دي د [اوبني شيد] له تعليماتو څخه ئې نشأت کړي دي دا فلسفه زموږ وروحي قواؤته پرانانيت او حب ذات باندي چې مذموم خو يو نه دي تسلط ور کوي اراده مورا تربيه اوژوندمو دحق او صداقت په روښنائي سره صفا او سپېڅلي کرزوي . د وهم او خبيثو وسوسو چې د شهرت يا بېځايو رغبتو پاڅونکي دي قلع وقمع کوي ولي چې داخو و هرچا ته ترلمرلا څرګنده ده چې د ټولو شرو او فسادو منبع غير له عقيدې او ايمان څخه بل شي نه دي .

پاك ژوند

د پټ روح مشاهده دخپل بدن په اعماقو کې چې يو ضروري کار دي بېله د نفس او ژوند له پاکوالي څخه په بل شي سره امکان نه لري يعني ځير کي او ادرا کي قوه پدې لار کي هيڅ کار نشي کولای البته تاسي به پدې مورد کي پوښتنه وکړي چې د روح د مشاهدې لپاره د زړه ثبات د نفس و ضبطېدو اره څرنګه ضرورت پيدا کولای شي زه وايم ددې کار له پاره صرف دښوونکي اشاره يا دعلم کسب او تفکر کفايت کوي پسله دې څخه بيا دا سوال و ميدان ته راځي چې موږ او تاسي له اخلاقي ښويدو څخه څرنګه ژغورل کېږو ددې مهمې مسئلې حل زموږ د مضمون اصلي روح او د ويدانت د فلسفې تراحتوا لاندي دي .

روح د جسد لپاره مادي عضوه نه ده او نه د کوم خاص مکان مقر ورلره شته چې غير د عقل له صفاوالي او يا سکونه څخه د زړه دي ادراك وشي باالفرض که موږ ئې د درك کېدو اراده په مستقل صورت سره بېله بدنه څخه و کو خداي خبر چې بېله غلبې او تسلطه څخه د عقل او حواسو دي د مراقبې يا خوب له لاري څخه په بل شي سره و کومي مطلوبي نتيجې ته ورسېږو .

پيدايښت

د علل او معلول د بحث سلسله خو ډېره اوږده ده چې آخر ئې و لومړي علل ته منتهي کېږي بل دا خو محققه ده چې د موجوداتو پيدايښت له لاشي يعني عدم څخه هيڅ امکان نه لري او د لومړني علت له وجود څخه چې مکون ئې دي هيڅ انکار نشي کېدلای دا حقيقت صرف

په هغه مدبر او حکیم وجود
پوری منحصر دی .
دنړۍ هرشی چی پـوپړل
باندی د منفعت وسیلې دی د

هغهٔ ذکر شوی علت په برکت
سره د پراخوالی او دپرېښت
قـابل کرزی یعنی نقصان او
کمبود ئې سره لـه استعماله

چندانی نه محسوسیږی ښائی
چی ناسی نه په یه دې مورد کی
کوم شك په زړه کی درپیدا
شی چی ددې بې اندازې موجو-

دأنو پیدایښت چی دحـد او
اندازې اتکل ئې امکان نه
لری څرنګه پـه داسی اسانه
طریقه سره ممـکنیږی؟ پوه

ورځ سوسیا کتیونـوم نومی
شاګرد له خپله پـلاره څخه
همدغه پوښتنه وکړه پلار ئې
وپوې نژې وانی نه داشاري په

ترڅ کی ورته وویـل: ورسه
ددغی ونی میوه راوړه نومړی
شاګردهم ویاڅېدی اودپر ژر
ئې دهغی درختی میوه دده و
حضور ته کښېښوله پـلار ئې

پوښتنه څنی وکړه تـه ددې
مېوې په مابین کی کوم شی
وینـې .
زوی: په .

پلار: نو پرمنځ باندی ئې سم
نیمی ګه .
زوی: داده سم نیمی می کړه .
پلار: په منځ کی ئې کوم شی
ښـکاریږی که په ؟
زوی: پوهوړه مند که ده .
پلار: دا مند که هم مانه که
وګوره چی په منځ کی ئې څه
شی دی .
زوی: داده مانه می کړه خو
په منځ کی ئې کوم شی نه
ښـکاریږی .

پلار: زویهٔ نو ویـوهېږه چی
ددې ډډې مند کی یـه میانځ
کی کوم بل داسی جوهر وجود
اری چی زموږ او ستاسی سترګی

دهغه له درکه څخه عاجزی دی
همدغه جوهر دا درخته شنه
اوداسی تربره لویه کړه تعجب
مه کوه زه او نه حتی د نړۍ
توله موجودات همدغه جوهر

پیدا کړی یـو چی ادراك د
څرنګه والی ئې زموږ مصنو-
عاتو له توان اوطاقته څخه وتلی
خبره ده وختی چی د مبدع

حقیقی اکملیت بـدې صورت
سره وموږ نه ثابت شو نو بیا د
هومره بې انـدازې شیانو د
پیدا ښت سوال په مختلفو شکلو

سره هیڅ نه پیدا کیږی .
قدیس به [مندا کا او بنی شید]
کی وایی ددې بې انـدازې
موجوداتو پیدا ښت ماسیوا د

وجود حقیقی او اساسی له ظهوره
څخه بل شی نه دی یعنی دادی
هـم درمعلومه وی چی دلمر
سپوږمۍ اود نورو موجوداتو

اروحان یا پخپله موجـودات
ددغه وجود مطاق د مظاهرو
اجزادی ژوند، کیفیتونه، صفات
اعمال اوحرکتونه ئې اشکال

او مظاهر ګڼل کیږی ددغه
مبصر حقیقی قـوه ده چی اور
لګوی، لمر روښانه کوی، باران
اوروی، مطلب دادی چی غیر
دده له وجود څخه نور توله

شیان د زیانوب یا کمبود یا زوال او فنا په محل کی دی دی له کوم شی څخه نه دی پیدا شوی بلکه غـرونه، بحرونه

نباتات او نور دمځکی دمخ جوهرونه چی زموږ ژوند پوری موقوف دی ده پیدا کړیدی او دی پرورش ور کوی .

یوازنی ژوند په ټولو کی

لکه څنګه چی دبدن ژوند په روح سره دی همدغه شانته بیا فردی روح په لوی روح (روح اکبر) سره حیات او وجـود پیدا کوی د ویدانت دفلسفې

په اساس سره فردی روح په فردی جسد او لوی روح په

فـردی روح کی متحرك او متمرکز دی اود زیږیدو په

زمانه کی بدنونه په اغوستل کیږی او پـسله څو عمره څخه بیازاړه او نور په واغوستل شی

یعنی دادی و ناسی ته معلومه وی چی اروحـان ابـد اوی

اجساد عارضی او فانی دی یعنی دتناسخ سلسله ئې نه شلیدونکی ده بل دلوی روح [روح اکبر] احتوا او استقرار دعـالم او

جاهل زړور او بې زړه قوی او ضعیف لنډه ئې داچی د ټولو ژوندیو موجوداتو پـه بدنو کی پټ موجود وی .

د [ایسټ لټریچر] دکتاب څخه

(دښاغلی «خ» ترجمه)

دشعر او موسیقی

پیدایښت

دانسان علایق او تمایلات پرڅو ډوله وېشل کیږی .

لـومړی؛ انس . دوهم؛ محبت . دریم؛ عشق . څلورم؛ جنون .

انس؛ دیوه سړی دبل شی سره په تمایل او استوګنه سره پیدا کیږی .

مینه یا محبت: تمایـل د یوه

سړی دبل سړی سره وی خو درجه ئې تر انس لوړه ده مګر عشق بیا تر مینی لاهم لوړ او هغه یـوه عمری عـلاقمندی ده د

معشوق سره کله چی د عشق درجه پسې بـالا سی او شدت ومومی نو دجنون او لیونتیا حدته رسیږی، دجنون په مرتبه

کی انسان عجیب ؤ غـریب حرکات کوی او په فوق العاده چارو سره پیل کوی پدې وخت

کی اعصاب کوم احساسات چی لری دلاسه ئې ور کوی او سړی په اعمالو او حرکاتو کی بې اختیاره وی .

ددې ډوله څخه په نړۍ کی لوی، لوی عاشقان تېر سوی دی چی وکړنو او حرکاتو ته ئې

موږ مطلق جنون وایو . اودا ددوی کارونه نه ددوی په ګټه تمام سوی دی نه دبل چا، مثلاً [د سپی دپښو مچول] [شپه او [دوو لسم مخ وګوری ء]

ورځ ژړا]، [غر کیندل] او نور.
د بشري ټولنو مقتدرو اشخاصو
به چې ښکلي او ماهري ښځې د
خپل ځان د پاره اختصاص کړي

او نور ئې د هغوی څخه محروم
کړي وه یا پخپله د ښایستو ښځو
له خوا و عاشقانو ته د یاس جواب
ور کول د هغو په لېونتوب تمام

سوی دی او موږ پخپل شا او خوا
کی کوم نکلونه چې اورو
یائې د تاریخ په پاڼو کی وینو
ډېر ځله دا لېونتوب په نارینه ؤ

کی موندل کېږي.
دا ځکه د نارینه ؤ غریزي
طبیعت نسبت و ښځې ته ډېر
طغیان لري اما دا چې په ښځو

کی د یادولو وړ عشقي کارنامې
نه دی ذکر سوی نو د دې دا
معنی نه ده چې دوی به احسا-
سات نه لري یا دا چې نه به

عاشقیږي بلکی علت دا دی چې
ښځه پخپل تمایل او غوښتنه

کی نسبت و نارینه ته ناامیده
نه پاته کېږي او د رد جواب نه

اوري فقط یو شخص چې د ښځې
د خواهش څخه ئې سر کښې

و کړه هغه حضرت یوسف «ع»
وو.
عموماً په انسان کی چې عشق
پیدا کېږي په مجردو اشخاصو

کی وی په تېره بیا په ځوانی کی
علاج ئې واده کول دی.
عشق زموږ په جهان کی لوی
تحولات راوستلی او غټی کار-

نامې ئې پاتی دی چې تواریخ
ئې بیانونه کوی. له دې وروسته
په دغه عشقي محاذ کی څه نور
شیان هم په وجود راغلل لکه

څه شي؟
دغه اشخاص چې د معشوقې له
وصاله محروم سوی او د خپل
مطلوب د ورتګ څخه وشړل

سوه د خپل عشق د اظهار او د
معشوقې غوږ ته خپلی ګریانی
او بیانونه ور رسول او بیا دا چې
په هغو کی هم اغیزه و کی دې

خبرو او بیانو قافیه او وزن
وموندله او [شعر] ئې نوم سو

کله چې بیا هم دغه پر قافیه او
وزن برابری خبری د معشوقانو

تر نظر ښه وایسېدې نو د دې
لامله وګړو د شعر ویلو بنا

کښېښوله دا سی چې په لومړی
سر کی خو شعر فقط د عاشقانو
د خیالاتو د اظهار د پاره ؤ پسله
هغه کرار، کرار د ټولنو په

نورو خبرو کی ور داخل سو
چې حکایتونه، تاریخی پېښی
او نوری خبری په نظم
سوی نو ځکه شعر څو ډولونه

او رنګونه پیدا کړل.
ور پسې دې خبری ته فکرو کړه
شو چې دا پر وزن او قافیه
برابری خبری د موسیقی د یوې

آلې سره وویل شی چې په تاریخ
کی لومړی سړی د یونان شاعر
[همر] دی چې د خپلی منظومې
تاریخ ئې د یو ډول ساز سره چې

په هغه وخت کی رواج سوی ؤ
ویلی دی. لېکن د هندوانو په
عقیده سره د موسیقی لومړی
پیدا کونکی [مادیوجی] دی

د ختیځو هیوادو محققینو د
موسیقی په باره کی ډېری عمیقی

او ژوری پلټنی کړی دی چې
د موسیقی وجه تسمیه و مومی

د ژب پېژندلو له نقطه نظره
موسیقی یونانی کلمه بلل سوی

او موجد ئې [میوزته] ګڼل سوی دی .

د شعر مروجین چې په نړۍ کې ډېر سوی دی او په وجه ئې داده

چې د سلاطینو په دربارو کې اوی منزلت د دوی په نصیب سوی دی او پدې وجه شعر هم ډېر ښت موندلی دی .

همدارنګه چې پاس مو وویل د موسیقی پیدا ښت او ډېر ښت د عشق څخه سوی، او دا هم ویل شویدی چې د موسیقی

لومړی آله [نل] دی دغه صحرائی نل چې په ښه آواز او ترنم سره ئې زړه او فکر ته فرحت حاصلیږی .

د موسیقی نغمې په لومړی سر کې په یوه جانګداز او محزون لحن سره وی او هر څو نه چې به ئې حزن ډېر ؤ هغونی به

موثر ؤ همداسی لکه شعر و نه موسیقی هم ډولونه او شعبې

وموندلې، اروپائی موسیقی او شعر سیاسی، اجتماعی او ولسی

دی آسیائی عموماً عشقی وی .

(هنر)

د پوهانو په نظر کی

هنر د ژوند عصاره ده .
«پل والری»

اوه! هنر څومره لوړ او ژوند څومره لنډ دی. «ګویته»

هنر په طبیعت کی پروت دی او په هغه چا اړه لری چې د طبیعت څخه ئې راوباسی . «دورر»

هنر قوه ده . «لانکفلور»

هنر د سعادت و لوری ته یو دعوت دی . «شپیلتر»

هنر د ژوند ډوډۍ نه ده شراب ئې دی . «ریشتر»

هنر یو ډول ژغورنه ده، چې موږ ته له [غوښتلو] یعنی له درد او خواشینی څخه آزادی رابخښی او د ژوند انځورونه ښکلا او دلربائی ور کوی .
«شوپنهاور»

موږ بدبخت نسل یو، له همدې کبله له بېچاره ګۍ څخه ناچاره یو چې د هنر د درواغو په مرسته ځان د ژوند له واقعیت څخه لیری وساتو . «ژرژساند»

حقیقی هنر د انسان وجود او د ده محیط په وجود راوړی.
«بایکون»

هنر ټوله نړۍ او واقعی هنرمندان ښه سره متحد کوی.
«بتهوون»

هنر د احساساتو د تحریک محصول، او هدف ئې هم د نفسانی حالو او انسانی عواطفو انتقال دی . «تولستوی»

ډېر وګړی هنر حس کوی ځینی په پوهیږی . خو بېخی لږ خلک ئې هم حس کوی او په پوهیږی . «ئی لارد»

هنر مقلد نه دی . «مازی نی»

تجربو موږ ته ثابته کړېده چې دقیق ترین فکر او عالیترین خیال د شعر او موسیقی په وسیله د افرادو په مغزو کی ځای نیسی افکار او خیالات د موسیقی او شعر په واسطه بالکل نه هېرېدونکی دی، دا وجه ده چې په ډېرو مذهبو کی ئې

عبادتونه په دې وسیله اجرا کېږی او هم په جګړو کی موزیک برخه لری .

ښاغلی کندهاری «رشاد»

قدرت

کله حسن او جمال یم په مخو کی
کله سوز او محبت یمه په زړو کی
کله مشك یم د کبلیو په نافو کی
کله وینی یمه غورځم په رګو کی
کله داغ د مینانو د کوګل شم
کله زوز یم، کله پاڼی، کله ګل شم

که می زړونه له کوګله وړه صنم شم
که می وموند محبت دعشق عالم شم
که د ګلو پرمخ پرېوتم شبنم شم
که بیاغوند سمه باداسکی وهم یم شم
مرغلره په آغوش کی د صدف یم
کثافت که می پیدا کی بیا خذف یم

د سرو ګلو په شونډانو کی خندا شم
د بلبلو په لېمو کی بیا ژړا شم
چی د زغ په صورت ښکارمه تنا شم
په فضا کی چی بیا څر کمه برېښنا شم
تیاره نومم چی دشپې یا له ښکار ېږم
بیا رڼا شم چی دورځی څر ګند ېږم

نوم د [می] را باندی کښېږدی په ساغر کی
سور یاقوت شم د ډبری په تټر کی
آب می بولی چی څر ګند شم په ګوهر کی
جوهر نومم چی بیا ښکارم په خنجر کی
که می نه خندل د بن نغښتی غنچه یم
او که نه نومسکی ګل او شګوفه یم

کله زړپ، کله سنبل، کله نسرین یم
په یوه کور کی پیاده بل کی فرزین یم
د مردود ومجازات اره سجین یم
د مقبولو مکافات اره برین یم
په یوه ځای کی او په په بل کی اور شم
په یوه بڼه کی سپین بله کی نور شم

دسقراط په جام کی زهر شم خواره شم — چی د خضر وار راځی دژوند اوبه شم
د سکندر د پرمخ تګ مانع نیاره شم — د موسی رهنمائی ته اور ښکاره شم

«یتیم» راولم پرمصرئي پاچا کړم
بیا دده «پاللی» ده لره بلا کړم

ژور څـا سمه و یوسف کنعان ته — بیا مسیح لره معراج سمه اسمان ته
«محمد» غوندی نور پاڅوم جهان ته — بولهب ئي ور پېغور کړم خاندان ته

د بلعم په ځان بلاخپله دعا کړم
دقطمیر دسړ یتوب موجب وفا کړم

کله جنګ ؤ اختلاف او عداوت یم — کله صلح ، اتفاق او امنیت یم
دچا ماته یم، دچا سوبه، نصرت یم — یو سبب یم دچا ضعف دچا قوت یم

د [اویس] دغېلو شپون دغره لېوه کړم
پرنا ترسو انسانا نو هګ شپانه کړم

کله توره یم په لاس کی د جګړنو — ګاه دسر دپاسه سپر یم دنیازمنو
ښادی نوممه په زړو کی د ښادمنو — دردمی بولی په کوګل کی د دردمنو

ګاهی تاج یم دوا کمنو په سرو کی
ګاه تنا که یم دخوار په لاس ؤ پښو کی

کله اوښکی د مظلوم یمه بهـېږم — کله ځګ یم د ظالم ترخوله توئېږم
یو ځای واك یم پر هر چا باندی چلېږم — بل ځای ضعف یمه و نورونه کېږېږم

د چا عز ؤ حریت او کامیابی شم
د چا ذل ؤ اسارت او ناکامی شم

چی مطیع وی ترهر چا وا کمن اسلام شی — چی لږ و ګرزی د بل مخلوق غلام شی
چی په ستر ګو کی ښکاره شم [لید] می نام شی — خوندمی بولی چی په خولو کی می مقام شی

کله روح یمه د خاورو په بدن کی
کله مړی یمه نغښتی په کفن کی

«نور په ۱۷ مخ کی»

ښاغلی ن

شاعر

هغه ږغ دی چی بیده زړونه یه باڅی

یه آهنګ ئې د آسمان ملکی ناڅی

د بهار د عندلیب د زړه نغمه ده

د کاروان د جرس ښکلی زمزمه ده

د شپانه د پردیسی د نل آواز دی

د حکمت په دفترونو کی یو راز دی

ښه مظهر دی د سپېڅلو احساساتو

فلسفه ده د خوش رنګو کائناتو

د روحانو له دنیا سره آشنا دی

د بېلتون مړو ته دم د مسیحا دی

چی د آهه سره وزی له سینې څه

تو یوی وینی دسترګو له چینې څه

د دردو نماینده د ځګر غږ دی

څیرونکی همېشه د کانه غوږ دی

د سر تورو و سرو ته حمایه ده

د یتیم و بې سایې سر ته سایه ده

دی زګېروی دز کندن، ساندی دبورو

د ظالم پر کوتی کارکوی د تورو

د غریبو او غمجنو زړو قوت دی
و سرمستو بدایانو ته آفت دی

چې د چا د بخت ډېوه شی په ده بله
تولوی د تاریکی هره کمبله

دغه ږغ دی چې په کوم ځای کی موجود سی
هره ورانه ئې آباده، په مسعود سی

د ۱۷ مخ د نظم پاته برخه

کله ژوند یمه، هستی یمه، بقا یم
کله مرګ یمه؛ نیستی یمه فنا یم
د اشخاصو په نسبت می شکل اوړی
یو قدرت یم چاته درد چاته دوا یم

ډول ډول می جلوې دی بر دې غولی
په رقم رقم نومومی خلق بولی

یخې خبری

ژوند

هر څونی چې کولای سې خوښ او خوشاله ژوند کوه او هیڅ وخت بېځایه او بې ګټی فکر خپل مغز ته مه پرېږده ځکه چې سلامتی دی تباه کېږی. [دیکنز]

کله په ژوند کی داسی ورځی راځی چې باید فرصت غنیمت وبولیء او ډېر ګټه ځینی واخلیء، نه داچې کوتا بینه واوسیء او له فرصت څخه ګټه وانخلیء. [بالزاك]

نړۍ خپل څرخ تل په یوه ډول څرخوی او د ژوند روابط دقیقه په دقیقه تغیر پیدا کوی. [امرسن]

ژوند یعنی [تل پلټنه]. [لامارتین]

یوه مور او گوډتیمور

دا نکل د روسیې د نامتو لیکوال مأکسیم گورکی یو دلندراو خوږو نکلو څخه دی چی د مور د مهربانی او شفقت حس ئې ډیر ژوندی پکښی ساتلی دی . ځکه می وخپلی ژبی پښتو ته راواړاوه .

«هارونی»

د جهان لوی فاتح امیر تیمور گورگان به د [کانهول] درې ته په مېله او ساتېری راوتیء او هلته به ئې په عیش و نوش وخت تېراوه، دا دره د آسمان ویوې توتې او ریځی ته ورته په سرو او د یاسمین په گلونو به داسی پوښل سوې وه چی د سمرقند شاعرانو به د [گلانو کښت] باله له دې درې څخه د ورځرمه ښار جگی منارې او د مسجدو شنې گومبتی دورا ښکاره وې . پنځلس زره خیمې به په دې دره کی

درول سوی او د خیمو پر سر به
د ورېښمو رنگه بیرغان لکه
ژوندی گلان رېېدل .
د تیمور خیمه به د نورو خیمو

ستنی ولاړی وې چی بندوالی
ئې دا نسان د حجم سره یوشان
وو د دې ستنو په وسیله به خیمه
ولاړه او د دې دپاره چی خیمه

تیمور کالی به خورا ښایسته
او د آبی ورېښمو څخه جوړ سوی
او تر پنځه زره به زیات مروارید
پر کار سوې وه سپینه هغه خولی

په منځ کی داسی ایسېده لکه
یوه ملکه چی د خپلو ښایستو
همزولو په منځ کی ناسته وی
دا خیمه څلور کونجه او هره

باد چپه نه کی په پنځه سوو
سرو نناؤ به ئې په مځکه پوری
تینگه کړې وه د خیمې پر هر
کونج به د سپینو زرو شاهینان

به ئې [چی موږ ئې شاه کلاه]
بولو پر سر او شنه ورېښتان به
ځنی راوتلې وه سرې کوچنی
او تنگی سترگی به ئې هری

خوا به ئې د سلو گامو په اندازه
او ږده وه جگوالی ئې درې
سر نیزې وو، د خیمې په منځ
کی به د رولس داسی طلائی

ولاړ وه او د خیمې په یوه لوړه
برخه کی به پنځم شاهین یعنی
پخپله شاهنشاه تیمور چی ماتې
ئې هیڅ نه منل نه است ؤ، د

خوا ته اړولې او هر څه به ئې
په لیدل د سترگو وړانگې ئې
لکه زهر مهره چی زهر وژنی
هغه چا چی د سر کښی او خود-

خواهی زهریت به ئې دراود
دتیمور دستر کو په کتو به دا
زهریت وژل کیدی . تیمور دوه
غوزوالی هم دراوده چی د

سرا دیب (اوسنی سیلون) د
عقیقو څخه جوړشوی اورنګ
ئې دښکلی ځوانی نجلۍ و
شوندانو نه ورته ؤ، په خیمه

کی به ئې خورا دلوری بیې
غالی هواری او درې سوه د
سروزروجامو نه او نور دیاچهی
دعیش او نوش سامان به مهیاؤ

دتیمور وشؤ خوانه به سازند-
گان ناست دمخ وخوانه به ئې
دده خپلوان، دملکو خانان
یاچاهان اولښکری قوماندانان

ناست ؤ اوتر تولو بـه نژدې
[کرمانی] نامتو شاعر مست
اومخمور د تیمور په وراندی
ناست ؤ .

یوه ورځ ددغه عیش او نوش او
ساز او صحبت په حال کی یو
زړه ریږدونکی آواز لکه
بریښنا چی یـه اوریځو کی

ښکاره شی د تیمور په دغسی
محفل کی واورېدل شو دازغ

چی دشهنشاه وغوږ نه راورسېدی
دبوې ښځی ؤ اودونه هیبتناکه ؤ
لکه د یوه زمری زغ، تیمور
بداسی حال کی واورېدی چی

دخپل زوی زخم ئې پر زړه
خوړلې او تول جهان نه به په
قهراوغضب کی سره اېشېدی ء
ئې وویـل: چی دا زړه-

رېبونکی آواز دچادی؟ بیدا
ئې کی ء ؟ حال راغی چی یوه
یردی ښځه نـوکر، نـوکر
کونجاری کالی ئې اغوستی او

ددرو دولتو پاچـاته به عرض
راغلې ده . تیمور امر وکړ
چی رادی سی . یوه ښځه راغله
چی لخی ښې تورک، تورک کالی

ئې اغوستی دځکرد تولو دیاره
ئې ورېښتان پـر راخپرولی د
مخ بوست ئې لکه اوسپنه تور
سوی دی په نازی ژبه خبری

کوی چی راغلهٔ بیله دې چی د
پاچا اودده دربـاری شان او
شوکت ئې ترتاثیر لاندی راولی
دتیمور وخوانه ئې لاسونه اوږده

ونیول او وئې ویل: هغه نه ئې
چی سلطان بایزید یلدرم دی

مات کړی دی .
تیمور وویل: هو! هغه زه یم چی
هم می بایزید اوهم می نور دیر
مات کړی دی. ستاخه مراد دی

ووایه ! ښځی یه دیر جرئت بیان
شروع کی او تیمور ته ئې وویل
ای پاچا ! دا خبره زما څخه
واوره نه چی په هر کار کی ئې

اوهرڅه وکړ خو بوانسان ئې
زه یوه موریم، نه ومرګ نه
خدمت کوې او زه وژوند نه
نه به دیو ښتنی یه ورځ یوویني-

تویونکی او مـلامت انسان
یادیږي، او زه به یوه مظلومه
ښځه، ځکه زه اوس غواړم چی
نه ددې خپلو ګناهانو جبیره

وکړم ماته ویل سوی دی چی
تیمور وائی [توان هغه دی چی
به درد وخوری] خوزما زړه نه
نه لویږی چی نه دی زما به درد

وخوري ځکه زه یوه اسکپرلې
مور یم .

تیمور چی ددې ښځی وزړه ور-
توب او بې پروائی نه وکتل او

دکښېنستلو اشـاره ئې ورته
وکړه او ورته وئې ویل: چی

هرڅه مراد دی وی راته ووایه
ښځه دشهنشاه په وړاندی چار
زانو کښېنستله او ورته وئې
ویل: چی زه [دسالرمو] د

اوسېدونکو څخه یم دا ځای
ډېر لیری دی زما بلار اومېړه
دواړه ماهیګیران وه یوه ورځ
دریابی غلو برموږ حمله وکړه

او هغه دواړه ئې مړه کړه زما
دزړه سر اوښایسته زوی ئې هم
ژوندی راڅخه بوتیء داڅلرم
کال دی چی دهغه په تلاش کی

لالهانده، سرګردانه یوې خوا
او بلی خوانه ځغلم چی دادی
اوس دلته راورسېدلم. تېمور
چی دښځی څخه د زوی کلمه

واورېدل نوئې واسوېلل او په
زړه کی ئې وویل: [لکه زما
زوی جهانګیر] ښځی پسې زیاته
کړه چی زما زوی اوس ستا په

لاس کی بولم ځکه د [بایزید]
لښکرو هغه دریابی غله نیولی وه

او تا بیاد بایزید لښکریان مات
او بندیان کړه هرڅه چی ئې

درلوده ځنی چوردی کړه په
هغو کی به دی زما زوی هم

راوستلی وی اوس هغه ماته را
وسپاره چی زړه می دده دبېلتون
څخه د کوتلو وینوډک دی.
تو له هغه څوک چی دتېمور په

مجلس کی ناست وه دښځی پر
داسی خبر وئې وخندل اووئې
ویل: چی دالېونۍ ده خو بوازی
[کرمانی] شاعر وویل: چی

هو: لېونۍ ده مګر داسی نه لکه
ناسی چی فکر کوی بلکه لېونتوب
ئې دمور والی لېونتوب دی او د
ګران زوی دبېلتون لېونتوب دی.

تېمور و ښځی ته وویل چی تا
دا اوږدې لاری، دا دښتونه
ځنګلونه او غرونه څنګه طی
کړه پداسی ځایو کی چی

انسانان ئې ترڅناورانو درنده
دی څنګه راتېره شوې ئې؟ دا
وخت هم کرمانی شاعر وویل:
چی په عشق کی دخطر او داوږدو

لار وحساب څوک نه کوی ښځی
به هغه خپله خبره تکرار وله

چی پاچا زما زوی پلاس راکه
زه یوه موریم او دزړه توته مې

راڅخه بېله شوېده.
[رشتیا چی مور دډیری ستاینی

او لمانځنی وړ ده په دنیا کی
هیڅ مهربانی نسته چی دمور د
مهربانۍ سره دی برتله سی د
دنیا پاچهان، قهرمانان، عالمان

شاعران او لوی لوی شخصیتونه
تو له دمور حاصل دی.
کرمانی شاعر: رشتیا باید موږ
مندی په لوړ عزت او تعظیم ومنو

ځکه دجهان برجسته اشخاص
تو له ددوی په غېږ کی روزل
سوی او جهان ته ئې ددوی د
ګټی دپاره وزوړاندی کړی دی

نن ورځ چی په دنیا کی هر څوک
په لوی عزت او منزلت پېژنو
دا دمور حصول دی.
تېمور چی دمور په باب کی دا

وارو ېدل څه وخت په فکر کی
ډوب سو او وروسته ئې امرو کی
چی درې سوه چابک سوارلیان
دی ددې ښځی په زوی پسې

رهی سی او هرچا که راوستۍ
هرڅه چی غواړی زه به ئې ځنی

ونه ګرزوم، زه یوه سوم چی دا
ښځه ولی داسی لېونتوب کوی

ولی داسی په دلاوری او بې-
پروائی زغېږی دا ځکه چی

مورده او د زوی ور کېدو ئې
سدؤ بد ځنی وړی دی، د زوی
بېلتون ددې په زړه کی یو
سوځونکی اور بل کړی دی

ددغه اور په قوه کولای سی چی
دژوند تر آخره پوری د زوی
په تلاش کی ځان ستړی او
ستومانه کی، خودا ستړیا به

حس هم نه کی بلکه ددې تلاش
اور به ئې نور هم پسې تازه.
کرمانی تر ټولو د پاچا په دې امر
او خبرو خوشاله سو او لاندنی

شعر ئې ووایه.
«نن هغه نغمه اورم چی نا قرارة
زړه څخه آرام ور کوی او په
آرام زړه کی هم خوشاله

کوونکی ښور ماښور راولی
دا د محبت خبری دی او سرچینه
ئې دیوه داسی ځای څخه ده
چی هلته بېله محبت، زیبائی او

خوښی ؤ خندا څخه نور څه نه
لیدل کېږی، ما داسی نغمه بل

وخت نه وه اروېدلې آیا دا د
ناز کو ګلانو دیانو زغ دی

که د آسمان ستورو په خبرو
بیل کړی دی دا رشتیا باید د

زړونو نغمه وبولو ځکه د معشوق
وخندا ؤ راز او نیاز ته هم ورته

ده او که بل نوم پر ایږدو نو
د مور والی د حس خبری دی.

تیمور و کرمانی ته آفرین
ووایه او وئې ویل: چی ته د

خدای تعالی بهترین صنعت ئې
او پاک خدای چی د خپلو حقایقو

د اظهار د پاره ستا ژبه تا کلې ده
منو ئې.

حقیقتاً چی کرمانی شاعر هم یو
حقیقی شاعر او خوږ ژبی انسان

دی ځکه یو وخت چی ګوډ-
تیمور د ده سره یو صحبت کړی

دی دا صحبت په ده کی دیوه
عالیقدر شاعر مقام څرګنده وی

هغه داسی وو:
تیمور ورته وویل: که ئې زه

خرڅولم په څو به می رانیسې؟
شاعر: په پنځه ویشت تنو سر با-

زانو دی رانیسم.
تیمور لږ څه په قهر ورته وویل:

چی دا خو یوازی زما د ملا
بیه ده.

کرمانی وویل: ته چی لرې
همدغه ملا لرې نور نو په یوه

پول نه ارزې.
ددې شکل لیکونکی [ما کسیم

ګور کی] وائی: چی تیمور یو
خورا لوی پاچا او یو قهار

انسان تېر سوی دی دا خبری
چی شاعر ورته کړی دی د

هرچا د وسه پوره نه وی نو
که زما په خوله وای ما به د

تیمور تر شهرت ددغه شاعر
شهرت زیات کړې وای ځکه

چی نو موړی شاعر د شاعری
مقام او د شاعری د ژبی پت

داسی ساتلی دی چی موږ
مجبوره کوی چی باید د

شاعری مقام ډېر وستایو خو
دا هغه وخت چی دوی د

خپلی ژبی څخه ښه استفاده
کړی یعنی حقیقت ئې په

ډېر جرئت څرګند کړی وی
لکه کرمانی شاعر.

آثار تاریخی :

د میرویس کلا

ښاغلی شیر احمد

حاجی میرویس خان چی په حاجی میرخان سره هم مشهور دی زموږ د وطن د خورا لوړو او نامتو کسانو څخه دی . حاجی میرویس لومړی سړی ؤ چی خپل وطن ئې د پردیو له چمبې څخه خلاص کړ

هغه وخت چی ئې د خپلی مینی آزادی وګټله او د خدای شکر ئې پر ځای کړ او وئې ویل: چی د وطن استقلال هغه وظیفه وه چی ماته د خپلی مور له خوا سپارل شوې وه زه اوس ډېر شکر کوم چی د مور نصیحت می پر ځان کړ .

حاجی میرخان چی د خارجیانو له کشمکش څخه خلاص شو نو د وطن واصلاح او امنیت ته ئې توجه وکړه د وطن په عمران او نورو چارو کی ئې ډېره پاملرنه درلوده دده دوخت د عمرانانو څخه

دده هغه شخصی کلا ده چی د کوهکران په کلی کی دارغنداب د رود پر غاړه پرته ده .

ددې کلا د جوړښت څخه تراوسه درې سوه کاله تېر ېږی مګر تراوسه پر خپل ځای بېله کوم تغیر

څخه ولاړه ده د ځینی تاریخی بلټونو څخه معلومیږی چی د ګرګین مېلمستیا هم په دغه کلا کی وه .

دا کلا د یوه مربع په شکل ده څلور سره ضلعی ئې سره مساوی دی د دېوال ارتفاع ئې لس متر ته

رسیږی، عرض ئې په تهداب کی یو متر دی او په اخیری ګز کی د [۴۰۳] متر دی. دا کلا تقریباً په

دوه جریبه مځکه کی ودانه شوېده دېوالونه ئې که څه هم د پخو موادو څخه جوړ شوی دی مګر

خوراتینګ دی. ددې کلا په جوړولو کی داسی یوه مفکوره موجوده ده:-

هغه خټه چی دا دېوال پری بنا شوی دی د پیلانو په واسطه پخېدل ټوله ورځ به پیلان پری ختل

ماښام به ئې یو ټاکلی اندازه په اوبو کی چی روانی وې ایښولې، سهار به ئې بیا هغه تللی که به نه وی کمی شوی نو هغه به ئې په دېوال کی مصرفول . په دې کلا کی کومی ودانۍ چی تراوسه د هغه

وخته پاته دی تراوسه هم پر ځای پاته دی اوس هم د استفادی وړ دی ددې ودانیو شمېر پنځو خونو ته

رسیږی ټولی خونی د کړکیو ځایونه لری مګر اوس هغه کړکۍ د وینو له خوا خوړل شوی دی

دې کلا دوې دروازې درلودلې چی یوه ئې د سړو اوبله ئې د پیلانو وه . د پیلانو خونه نړېدلی

مګر ځینی برخی ئې اوس لیدل کیږی . د کلا په ځینو برخو کی ګچ او سارو هم کار شوی دی نور

هغه شیان چی دیوه مشرد کور دیاره لازم وي د
زمانې د ډېروالی او دخلکو دبې بروائی په اثر
له منځه تللی دی دخو نو په دېوالو کی داسی خښتی
کار شوی دی که څه هم دپخو خښتو سره شباهت

نلری مګر خوراتینګی دی ددې خښتو څخه اوس
هم کار اخستل کېږی داخښتی علاوه پردې چی
محکمی دی خورا لوی خښتی دی چی دا ډول
خښتی اوس نه استعمالیږی. دمعماری طرز ئې

هم خورا ښه دی .
د کلا جغرافیوی موقعیت هم ښه دی دلوی غره په
لمن کی نژدې ویوه رود ته تعمیر شوېده په شاوخوا
کی د کلا هم ځینی باغونه او مېوه لرونکی ځایونه

چی دتفریح لپاره وه لیدل کیږی مګر دا باغونه
اوس په شخصی باغو او مځکو تبدیل شوی دی په
دې کلا کی ځینی تشریفاتی ځایونه هم جوړ شوی
دی له دې څخه معلومیږی چی میرویس خان ځینی

دعوتونه دلته کول .
دا کلا د کندهار د اوسنی ښار دغرب وخواته
تقریباً ۱۵ کیلومتره لیری واقع شوېده .
ددې کلا دشمال پخوا کی یو مسجد چی ددې کلا

هم عصر دی ودان شوی دی دا مسجد که څه هم په
ډېر ساده ډول جوړ شوی دی مګر یو خاص تاثیر

لری. دځینو دپلټونو څخه معلومیږی چی ددی
کلا بنسټ خښته د لوی شیخ باباولی صاحب په
لاس ایښوول شوېده له دې څخه معلومیږی چی
باباصاحب دحاجی میرویس په دربار کی یو خاص

عزت او احترام درلود .
دمیرویس د کلا په شرق کی یوه خورا لویه دجوزو
ونه ولاړه ده چی دهمدې کلا همعصره ده .
دا کلا اوس د هوتکو دقوم څخه دیوې کورنۍ

په لاس کی ده چی خپل ځانونه د حاجی میرویس
دلمسیانو څخه بولی .
دا یقینی معلومات ما نه نسته چی دوی په کوم
ځای کی وحاجی میرویس خان نه رسیږی مګر

د تاریخی تحقیقاتو څخه دا معلومیږی چی دا
اوسنی خلک په رشتیا دمیرویس خان داولادې
څخه دی او ډېر زیات ګمان پردې کیږی چی
دوی دحاجی میرویس دلور داولادې څخه دی .

ددوی قرابت نسبت ومیرویس خان ته له دې
ثابت دی کله چی ۲۵ کاله دمخه
محمد ګل خان مهمند د کندهار تنظیمه رئیس ؤ
او غوښتل ئې چی د میرویس خان د مقبرې

احاطه پراخه کړی نو د دغو موجوده کسانو
نیکه چی غلام محمد نومېدی خپل ځان ئې د
ځینو دلائلو په اثر د میرویس خان د اولادې
څخه معرفی کړی نو ئې د حکومت څخه دڅه

مرستی غوښتنه وکړه هغه ؤ چی حکومت هم
د حاجی میرویس په احترام ودې خلکو ته د

ارغنداب په ناوه کی څو جریبه مځکه ورکړه
او هغه مځکه تراوسه پوری ددې خلکو په تصرف
کی ده .

لیکونکی: مهاتما گاندی
مترجم: «م، ع»

په کرچنیوالی کی
د واده ناوانونه

خرنګه چی واده په اصطلاح کرد بوي ورځی لارنه ده، کار باید په ډیر احتیاط وسی مخصوصاً د زوم او ناوی سن ترقولو لوی شرط دی هغه ودونه چی په اومه سن کی سوی دی ډیر لږ خوشالی ځینی پیښیږ سویدی. نو مهاتما گاندی چی د خپل عمر په اوږده دوره کی دلو یو تجربو څښتن ؤ، او ده نه هم په کوچنیوالی کی واده سوی ؤ، د هغه ناوانونه خپل به قلم لیکی او دا مضمون موږ ده له یوه کتاب څخه چی [زما تجربې] نومیږی په آزاد ډول را ژباړه کړ

لکه خرنګه چی مو زړه ورا ری باندې لیکم دا ډیره ښه خطره ده چی زما سره پیښه ده هغه محلمیان چی اوس ئی عمرونه د پرلس اوڅو لس کاله دی او زما تر تربیې لاندی ی غواړم مبارک وو رنه ووایم چی به دې سن کی ئی واده نه دی کړی چی زما به سرنوشت به اختیار سوی وای دامانه معلومه ده چی هیڅ ډول دلیل ددې کار د دفاع له پاره نسته.

دلوستونکی د اشتباه د رفع کولو له پاره باید ووایم چی ما په ۱۳ کلنی کی واده کړی دی نه کوزده، ځکه به کاتیاوار [د گاندی پلرنی ښار] کی دوه دوه رواج وه یوه نه ئې کوزده ویل چی زوم د پلا او مور سره به نهه کېدی چی هغه به په زړه او ناوی به ئی اړه نه درلوده

او کوندوب به ئې پیر دوی ناتیر نه اچاوه. اې څخه یو هندو هلک چا نه درلوده حتی داسی به ډیره پیښه وه چی دزوم او ناوی به غیاب کی چی دوی به خبر لاهم نه وه دا کار به د والدینو له خواخه وسو.

زه و وسته عمر سوم چی زما مور او پلار دې واره په نا خبری دا کار کړی ؤ چی دهغه څخه دوې تر واده دمخه مړې سوی وې.

زما د لومړی کوزدې مراسم چی زما د عمر په اوه کلنی کی پر ځای سوی وه زما څه په یاد نه دی او دلته به دخپل واده څخه وزغېږم چی زما د عمر پر دیر لسم کال وسو. موږ دری ورونه ؤ چی مشرور ورمی یخوا واده کړی ؤ او مشرا نو مو تصمیم ونیوی چی زما د دوهم ورور زما او زما دا کا د زوی واده

په یوه وخت کی و کړي ځکه موږ د عمر په لږ توپیر سره همزولی ؤ.

ددې کار له پاره زموږ خوښی او خوشالی فکر چا نه کاوه بلکه د خپلی سات نپری او صرف جوئی په لحاظ ئې دا کار کاوه.

په هندوانو کی واده چندانی آسانه کار نه دی. ډیر پلا وینه اومندی لیدل سوی دی چی د ودو په مصرف کی ئې خپل ټوله دارائی د لاسه ور کړی او دروبزی نسه ار سوی دی خو

هیاشتی تر واده دمخه د واده
درب ؤدروب شروع کیږی کالی
رغیږی کورونه جوړیږی اود
هیلمستیاؤ له پاره کوښښ کوی

چی په هره وسیله وی دیری
بیسی برابری کړی هره کورنی
کوښښ کوی چی به سیالداری
کی ترهغه بلی کورنی ئې واده

مجلل وی تولـه هغه ښځی که
ئې آواز ښه وی که بدی بدلی
وائی او په نارو او بوغارو پر
همسایگانو خوب حرام کړی

همسایگان هم مجبوروی چی
باید پهدغه وخت کی پرخوله
دسکوت مهر ولگوی اوخه باید
ونه وائی محکه دوی پوهیږی

چی ددوی نوبت هم رسیږی چی
دهغو پر سردغسی بلا ورشوه
کړی زموږ مشرانو فکر کړی ؤ
چی زما دواده له پاره باید منظم

ترتیبات ونیسی او د خرڅ د
کموالی په خاطر باید دا درې

و ونه په بوهشپه وسی محکه د
درې ودو له نیم مصرف شخه بو

حد رافوق له ده واده چه بیږی
زما بلاز اوا کا چی بیخی دیر

دراوده محکه ما پدغه وخت کی
شهوت بیخی نه بیژندی اجازه
راکړی چی دلته دخجالت له
مخی ترڅو قصور تیر سم اوهغه

به چندانی ناسی نه دلچسپه هم
نه وی خودمثال پهدول به ئې
یوه مضحکه برده بیان کړم
مثلاً کله چی ئې دواده پهورځ

موږ د راجکوټ شخه پهور
بندرته بیولو سرتریایه ئې د
کور کمنو پـه خمیره ولړلو
زما بلاز چی وزیږؤ اودنا کور

[هغه وخت اوی شاعر] سره ده
علاقه درلوده او پدغه وخت کی د
هغه سره پهمجلس ارؤ کله چی
هغه وخت کاڼی ئې راوغوښته

او وې ویل : چی پور بندر نه
باید پهدوې ورځو کی ورسیږو

دراجکوټ او پور بندر ترمنځ
۱۲۰ میله مسافه ده او هغه به
گاډی په پنځه ورځی طی کوله
خوځرنگه چی زما بلار چابکی

کوله نو پور بندرته نژدې به
دریمه ورځ گاډی مانه شوه
اوبلار می سخت ژوبل شو، کله
چی دواده ترتیبات شروع شوه

زما بلار سرتریایه یوه دزخم
بندی بهی روه داهم نه کپدل
چی واده معطله شی اوتوله به
یوه سناز نکپدو اوخوشالی مو

پهوپر بدله سوه .
تراوسه چی زه هغه صحنه را
بیادوم زړه می دکونلو وینو
دلګ شی او پر بدن می دشرم څخه

خولې رآمانی شی .
دواده پهورځ می بلار که څه
هم د پر په تکلیف ؤ خو د
خوشالی دپاره ئې په مراسمو

کی گډون کړه .
پههغه ورځ که څه هم تولهشیان
دپر خوشاله وه خوزه نه پوهیدم
چی ماینه یعنی څه دا اوس

زما هیرده چی څرنگه به څه
[اوریه ۲۷ مخ کی]

ښاغلی «ویران»

ښاغلی عبدالحی «حقیقی»



ښاغلی عبدالحی «حقیقی» داچی چېرته ئې بلدي مخ کی لیدل کېږی دمرحوم حاجی محمدافضل زوی یه ختیه علیزی او به ۱۳۱۸ ش کال د کندهار یه ښار کی زېږېدلی دی . کله چی زه دمیرویس

بابا یه لیسه کی زده کونکی وم دهغو زده کونکو یه ډله کی چی زیار او کوښښ ئې یه تندی کی لا دوراښکاره ؤ بوهمدغه ښاغلی حقیقی ؤ داخواری-کښې او ځیرك زده کونکی یه دې ترڅ کی چی

خپل درسونه یه ئې یه ښه توګه وسرته رسول د لیسې یه اوه ورځنی کنفرانسو کی یه ئې ترنورو دپروشاګردانو لویه برخه اخیستله او همداسی د کندهار د طلوع افغان د ورځپاڼی سره ئې

خپلی قلمی مرستی جاری ساتلی وې چی د نوموړی ورځپاڼی دپرو کلو کلکسیونونه زما د دې خبری تصدیق کوی .

ښاغلی حقیقی یو هم طبع، خوش خلقه اود ښو

اخلاقو څښتن دی؛ دمشرانو اوملګرو ئې تل احترام کړی دی . نوموړی یه دپر کوچنی والی

یه شخصی توګه یه سبق ویلو کمارل سوی او چی عمر ئې د [۹] کالو یه شاوخوا کی ؤ د کندهار د ټمورشاهی ښوونځی ودوهمی تولګی ته شامل

سو ددې ښوونځی ددریمی تولګی تر ویلو وروسته دپوهنی دمدیریت له خوا دمیرویس بابا لیسې ته تبدیل اوهلته ئې تر نهمی تولګی پوری اوست اوتحصیل وکړه . دلسمی، یوولسمی اودوولسمی

تولګیو دپاره چی یدې لیسه کی نه وې داحمدشاه بابا لیسې ته واستول شو. ښاغلی حقیقی وائی: چی دتعلیم یدې دوره کی د ژوند دډېرو مشکلاتو راته مخ ؤ خو دهغی مفرطی مینی یه وجه چی ما د

ښوونځی اوزده کړی سره درلودل نو دپره ځایه باندی مسلط وم مګر بولوی مشکل چی پر مانې پرې ومه نداوزما دپړی آرزو ګانی ئې رانیمه خوا کړی هغه زما دمرحوم پلار مرګ ؤ دا بداسی

وخت کی چی زه ددوولسمی تولګی څخه فارغ سوی اود فاکولتې یه هیله می دقیقې اوساعتونه

شمېرل، د پلار مرګ ماته
بېخي لويه پېښه او صدمه وه ځکه
پداسې وخت کې چې باید خپل
تحصیلات مې پوره کړي وای

زما د کورنۍ چې د شپږو تنو
څخه عبارت وه تو له احتیاجات
او ساتنه را دغاړي سوه، دا یوه
روښانه خبره ده چې د خوراك

او پوښاك سوال منځ ته راسي
نوري خبري ئې تحت الشعاع
واقع سي. زه یوازې په یوازې
پدې فکر کې ولوېدم چې زه

او زما کورنۍ ساتنه او د
ژوندانه احتیاجات غواړو نو
د یوه داسې کار په تلاش کې وم
چې هغه څو ورځې د مخه زما د

اړتیاؤ جبیره وکې. پدغو وختو
کې مې دا خبره تازه وغوږ ته را
ورسېدل چې [د آریانا افغان
هوائي شرکت] غواړي چې د

خپلوالو نکو چلولو د پاره افغاني
پېلوتان ولري نو مې د ملګرو

سره سلاو کړه چې زه هم کشکې
پدې تل کې مراجعه وکړم

بالاخره که مې ملګري وه که
مې هر څه وه سلائې را نه کړه

د پنځه ویشتم مخ پاته برخه

ډول د [سپتاپادي] مراسم پر
ځای سوه. [سپتاپادي د هندوانو
د واده په مراسمو کې هغه
مذهبي دود دی چې د نکاح پر

وخت ناوی او زوم اوه قدمه یو
ځای پر لاري سره رهي کېږي
او د وفا او صمیمیت قول سره
کوي او پر اوږم قدم داسې

تلقي کېږي چې نکاح وتړل
شوه.]
او دا هم هیڅ و یاد نه نسم را-
وړلای چې څرنګه مو کنسار

[د غنمو د اوړو څخه یوه شیرینۍ
ده چې د نکاح پر وخت ئې
زوم او ناوی یو د بل په خوله
کې سره ور کوي] پر ځای
شوه.
آه له هغې لومړۍ شپې څخه
دوه معصوم کوچنیان، بېله کوم
هدف او مقصد څخه د ژوند

طوفاني او قیانوس ته ورشېوه
شوه. د واده په اوله شپه مې
ورېنداري یو څه راښوولی وه
او ماندینه چې مې هم کوچنۍ

نجلۍ وه هغې ته به هم یو چا څه
ورښوولی وه، خو دا چې کله
موږ سره مخامخ شو و هغه خبرې
ګرده ولاړې او پر دواړو شرم
او حیا غلبه وکړه، د ډېر ستړیا
څخه بیده شوو.

وروسته تردې ځکه چې زموږ
سن و واده ته مساعد نه ؤ نو
هیڅکله ما خپل ځان ته د یو
مېړه په حیث تکلیف ور نکړ

او هغه هم یوه نجلۍ وه چې په
هیڅ نه پوهېدله، که څه هم
وروسته مو یو د بله په خبرو پیل
وکړ مګر یو پر بل سره بار ؤ

څو د ژوند په آخرو ورځو کې
چې دواړو د اجتماعي فلسفې
پر اساس فکر ته ورسېدو، نو
مو ګذاره وکړه.

خو دا دی پټه نه وي چې د کم
عمر په ورځو کې واده نه یوا ځي
بې خونده وي بلکه ژر زړونه
سره ساړه شي او دا نو د ژوند
تر پایه یو نه تمامېدونکي شخړه
په وجود راولي.

تردې حده چې یوه د سپین ږیرو
متعلقینو څخه را ته وویل: چې

آیا پر مځکه رزق لږ دی چې
«۲۸ مخ کې»

ته هوانه پسې الوزي؟ اوهم مې يوه له ملګرو څخه په تو که رانه وويل چې: [تر کاڼي دېېزو کار نه دی] خو زما عزم او اراده پردې خبرو غالبه وه او قطعي مې دا کار په برخه سوی ؤ

نومې ځان و نوموړی شرکت ته معرفي کړ او هغوهم ترڅه ازموينو وروسته د الوتکو چلولو

د يوه زده کوونکي په توګه ومنلم څه وخت وروسته ئې کابل ته ولېږلم چې هلته د څلورو

مياشتو دپاره ددې کار په اړه يو کورس ووايم د کورس تر بشپړه کېدو وروسته د مربوطه

تحصيلاتو په منظور امريکا ته ولېږل سوم هلته مې دوه کاله تېر کړه او دا لاندنی لائيسنسونه

و لاس ته راغله .

PRIVATE,COMMERCIAL
A.S.E.L,
COMMERCIAL A.M.E.L,
INSTRUMENT
DOUGLAS DC3

ددې وروستي لائيسنس دلاسته راوستلو په وجه ما هغو ملګرو ته ثابته کړه چې هر کار

کېدونکی دی خو تينګ عزم او متينه اراده غواړی زه هغه چاته چې زه ئې ددې کار څخه

منع کولم غواړم چې داسې خبرې د انساني او بشري نړۍ د پرمخ تګ مانع وي بايد حذر

ځنې وسي .

دا ګړی چې زه ددې څو کرښو په ليکلو لګيا

يم په خپل مملکت کې د يوه پېلوټ په حيث خدمت ګار يا دېږم . دا زما بېخي تينګه آرزو

او بلکل اساسي مرادؤ چې زه د خپل ګران هيواد او محترم واس يو خادم سم .

نو بدې ترڅ کې د لوی خدای «ج» څخه هيله کوم چې د محترم حکومت دښو آرزو ګانو

په پوره کولو کې په پوره طاقت او اخلاص ښه تراسهيم و اوسو او کوم د خدمت اميدونه چې

د مملکت د ځوانانو څخه کېږي په ډېره توجه تر سره شي .

داوه د ښاغلي عبدالحي حقيقي د پېژندګلوی څو کرښې که څه هم ددوی دا پېژندنه د يوه

ليکوال او اديب په حيث وه ځکه چې وخت ډېر لنډؤ نومو دده کوم اثار وړاندې نکړای سوای

نو لکه دمخه چې مو دې خبرې ته اشاره وکړه په طلوع افغان کې ددوی په قلم ليکل شوی

مضامين او ګټوری ترجمې په زياته بيا په ۱۳۳۳ ش کال ئې يوه اوږده سلسله ترجمه د

[لويانو ويناوی] په عنوان خپرې سوی دی .

جبران خلیل جبران

د ښاغلی «آرین» ژباړه

د یـــوه پرانـــده

شاعر نغمه

✡✡✡✡✡

به دواړو سترګو روندیم . دروښانه او خلپدونکی لمر تودې وړانګې چې ستاسی اړیدرنا کوی زما بدن هم دخوږو به ژورو تاریکیو کی به غېږ کی نیسی .

دژوند مظاهر زما لامخ څخه تښتی .
ددې حرمان برخلاف زه خپله لار بلټم او مخ نه ځم .
دلګړی به مرسته ګامونه اخلم، به داسی حال کی چې ستاسی غوږونه د آس د سوواله آواز څخه خوندا خلی او نسبت ماته مغرور کېږی.
زه دنیاري دوادی به زړه کی چې تولو ځایونې توری جامې اغوستی دی، خپله دنګ لار بسې وهم او نه بېرېږم . .
خو ناسی به خپله روښانه اړیدکی لـه هرشی څخه حتی درنا څخه لا به وحشت کی یاست .
هیڅ وخت خپله لار له ور کوم ځکه تاریکی زما دپاره لکه ستاسی دپاره روښنائی داسی ده .
هوا نیاره، هرڅونی چې له غلیظ تورو الی څخه دکه وی، هرځای چې کوم مانع او خنډ مخ نه راسی خدای ما به خطر بوهوی ازما ژغوری .

شکرفې او ګلان زما و قدمونه ځـانونه را ژدې کوی .

دا وخت دی چې ددوی معطره وزمې او زړه غوږونکی بوی زما روح بروجد او خوښی راولی

به نشاط کی کېږم او ترهغه به لوړ عالم کی چې تاسی ئې به خپلو دووستر ګو سره وینئ، لوړېږم روح نه پرورښت ور کوونکی نغمې او ترانې می دا ئیر د آسمان برسر تېرېږی .

* * *

ستر ګی می د بـاغو او د آسمان او مخکو د ښکلیو منظرو له ننداري څخه تړلی دی .
دبی مخو ښکلیو لیدنی دپاره ددیدقوه نه لری
خوونې منې چې روح، رګونه او شریانونه می لکه مقناطیس دا ښکلاوی جذبوی او زما اړیدستاسی له کهکشانو څخه تر دکی اړیدلو به ده.
څوک دی چې زما دزړه روښنائی او دجمال عواطف له ما څخه بېل کړی؟ خلاقه قوه راڅخه واخلی؟
دوی وایی: « بیچاره او بینوا » د سپوږمۍ، لمر او شپه رنا کوونکو ستورو دلیدنی قدرت نه لری

نور به ۳۰ مخکی

دچینی ادبیاتو څخه:

د څلورو فصلو ترانه

ژباړونکی محمد احسان «کارګر»

«پسرلی دی»

د ولې روانی او به ورو ورو بهیږي، ښکلې ښځه د ګلانو په تولیدو لګیاده، دهغې نازک لاسونه لکه پتنګ د ګلانو پر مخ دوری هیسته کېده. یو سپور سړی تېریږی او هغې ته ئې په ځیر کتل. ښکلې ګل توانکی ښځی په نرمه لهجه ورته وائی: «ښاغلي، ښائی لطفاً پرهغه لار ولاړ سی؟ ځکه ستاسی آس زما د چمن ګلان تر پښولا دی کوی».

«دوبی دی»

د رودخانې تر اغاړه نیلوفری ګلانو نیولې ده یوه ښکلې ځوانه نجلۍ دولې دونی ترسیوری لاندی په خپلو خوږو خوبو کی ورکه ده، د ګلانو یوه ورو کی کښتۍ چی وده نه نژدې وه ورته کتله چی کله به لارویان لیری کېږی.

«منی دی»

ښځی په ډېره خواشینی سره د رودخانې و څنګ ته ناستی کالی مینځی، د درختو پېړی پاڼی به دومره کونه، کونه توئېدلې چی آخر به کالی پرېولو نکو هر ګړی ځای سره الیشاوه وختی چی ددې ناامیده سترګو ته می وکتل، په زړه کی ئې ویل چی: «جنګ به کله خلاص اوزما مېړه به بیرته راوګرزی».

«زمی دی»

دن سهار قاصد پتنګ غوا ندی د جنګ میدان ته ځی، ښځو توله داورځنګ ته ناستی او ده ته تاوده کالی ګډی، خپلی ښکلی ګوتی ئې له یخ وهلی ستنی او غیچی سره آشنا کړلې اوس هغه سهارنی یخ، چی د هغو تر ستنی او غیچی ښه تیرا یخ دی راسپدلې، لیکن هغه قاصد پتنګ به هغی مخکی ته چی دهغه نومیالی مېړونه د جنګ په حال کی دی، آیا ورسیږی؟؟.

«دیو وړانده شاعر نغمه» پاته برخه

دی به باغو کی پر ګلانو د طلائی پروانو ننداره ئی کولای. څه عجبه بدبختی.

بیچاره، بیمنوا، او خوار هغه دی چی غوږ و نه اری خو نه اوری. سترګی اری، خو نه وینی.

زه سترګی نه ارم خو زما تول حواس د سترګو د کار کفایت کوی.

زه نه غواړم چی د ترحم او شفقت په سترګو رانه وګوری. که د ظاهر سترګی نلرم خو د باطن سترګو می روښانه دی او کار کوی.

بیچاره ناسی باست چی د خدای ټول نعمتونه مو عاطل پرې ایښی، کفران او ناشکری کوی.

وو ایاست ناسی د نور له دې دوو ځایو څخه چی دمکر، فریب او فساد څخه ډک نړۍ کر کی ئې پرتاسی پرانیستلی دی. بیله ګمراهی او تباهی څخه نور څه اری؟

خوشبخت او نیکمرغه دی راندې چی ستاسی نړۍ نه وینی.

د ښاغلي سردار محمد داؤد د پیغام د متن پاتې برخه

ارزموږ خوندونه دامیسره شوې ده چې ورځ په ورځ زیاتیدونکی اندازه د وطن په وګړو کې زموږ د ټولنې دورځنې ژوند په ورځنیواعمالو کې ګډون وکړي.

زموږ د مملکت د معقول انکشاف هغه د افغانستان د اقتصادي وضع او اجتماعي شئونو د متوازن کولو دپاره زما او زما د همکارو ملګرو په نزد ډېر ښکاره ضرورت ایدل کېدی چې د همدې مطلب دپاره هم د افغانستان د اساسي قانون د ترمیم، د انتخاباتو د قانون د تدوین د دولت د ګډې کونو قواوو په چلاوالی کې د یوې واقعي او کلکې دیموکراسۍ د روی کارولو په هکله یو بېشمېره د معظم ټولواک همایونی اعلیحضرت حضور ته وړاندې کړې دی. زه هیله لرم چې د لوی خدای په مرسته د افغانستان خلک په خپله اجتماعي شئونو کې هم ځان په مقابلت سره هغه عصر ته نژدې کړي چې ژوند یکښې کوی دا به او به نه کمرغوبي وي چې که دولت به راتلونکی وخت کې د اسې هدف ته پخپله خطمشي کې ځای ورکړی.

په دې وخت کې چې خپلې ډېرې ښې آرزوګانې خپلو پښتونستانو ورنو ته وړاندې کوم ارهیله لرم چې د پښتونستان خلک د خپلو مقدسو آرزوګانو په ترسره کولو کې بریالي شي. په داسې حال کې چې وظیفه برېښېږدم د خپلې قدردانۍ، د صمیمي مراتب خپلو ګرانو وطنوالو د افغانستان خلکو او هغه منورو کسانو ته څرګندوم چې د مملکت د انکشاف په لار کې ئې زما سره همکاري او ملګري توب کړیدی.

زه د خپل ګران وطن خدمتګار وم او یم هر چیری چې اوسم زما زړه او روح د خپل هیواد د خدمت دپاره دی، دا به ژوندګی زما بوازې آرزو وه، ده، او وی به.

په پای کې د همایونی اعلیحضرت روغتیا او بریالیتوب او د جناب نوی صدراعظم او د هغه د محترمو همکارانو موفقیت د وطن د خدمت په لار کې د لوی خدای له درګاه څخه هیله کوم. دعا کوم چې د افغانستان نجیب ملت ورځ په ورځ زیاتیدونکی صورت سره د خپل ملي نیکمرغۍ د ژوند په تکامل کې بریالی شي. باختر

کندهار:— د افغانستان د خواخوږۍ او زیارکښ صدراعظم ښاغلی سردار محمد داؤد ستر وخدتونه انځنه کوی چې د هیواد د اوږدو زیاتو پرمختګ په لار کې ئې کړی دی. افغان ولس د دوی د هغو زحمتو او زیارکښو مرهونه دی چې موصوف د ګران افغانستان د ودرو ستونو نهضتو او د بېلو بېلو اقتصادي او عمراني پرمختګو په لار کې کاله دی یا ته ه بیا د هیواد د ملي کولو د دپاره د اقتصادي پنځه کلنو پلانو د پیاره کې د دوی د ابتکار او د ملي کېدو د پاره د دوی د کوښښونو قدر کوی او د دوی دوره د افغانستان د پاره یوه روښانه دوره بولی.

د غه دول (کندهار) وښاغلی دوکتور محمد یوسف نوی صدراعظم تر دې ځای او درنې وظیفې د ورسېدو او تبریک وایی او له یک خدای څخه ئې د معظم ټولواک د لارښوونې پر ناکی د هیواد د اعتلا او ترقی په لار کې به ورسېږي سوی وظیفه کې بې ی او د وفقیت غواړی.

KANDAHAR

MONTHLY MAGAZINE

OFFICE

PRESS DEP

KANDAHAR, A N

EDITOR A.M 'KARZI'

(MARCH) 1963

GOVERNMENTAL PRESS